

**Journal of Natural and Social Sciences**

journal homepage: journals.baghlan.edu.af/index.php/bjnss

# The Impact of Political Agreements on Government's Affairs Regarding Islamic Law

Muhammadullah Wardak

Department of Islamic Studies, Education Faculty, Baghlan University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Muhammadullah Wardak , **E-mail**: muh.wardak@gmail.com

**Article Info**

**Article Type:**
Research Article

**Article History:**

**Received:** 22, December, 2025

**Accepted:** 5, May, 2026

**Published:** 7, June, 2026

**ABSTRACT**


According to the Islamic laws and rules, the impact of political agreements on government affairs is related to pertaining to the management of relations between governments, considering to prevent war and conflict. A crucial point that underscores the importance of this topic is that sometimes small groups can also be considered successful to achieve legitimate governance. In Islamic history, notable examples include the treaties of Aqabah I, II, and the Treaty of Hudaybiyyah. The objective here is to illustrate how governments or small groups with a legitimate claim can gain both international and domestic legitimacy for their governance or political movements to develop successfully. To conclude, alongside physical and economic sacrifices, political agreements can also bestow domestic and international legitimacy to powers while preventing conflicts and wars during the preservation of societal welfare.

**Keywords:** Agreement, Stability, Government, Legitimacy, Treaty.

To cite this article: Wardak. M: 2026. The Impact of Political Agreements on Government's Affairs Regarding Islamic Law. Baghlan University Journal of Natural and Social Sciences, Vol. 14, Issue. 1, Serial No. 38. Spring (2026), 55-68.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan **Journal@baghlan.edu.af**

د بغلان پوهنتون د طبيعي او ټولنيزو علومو علمي څېړنيزه مجله

journals.baghlan.edu.af/index.php/bjnss



# د اسلامي شريعت له نظره پر حکومتي چارو د سياسي تړونونو اغېز

پوهنوال محمدالله وردګ

د بغلان پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځي، د علوم او فرهنګ اسلامي څانګه.

**اطلاعات مقاله**

**نوع مقاله:**
مقاله علمی- تحقیقی

**تاریخ دریافت:**
۱۴۰۴/۱۰/۱ هـش

**تاریخ پذیرش:**
۱۴۰۵/۰۲/۱۵ هـش

**تاریخ انتشار:**
۱۴۰۵/۰۳/۱۷ هـش

**لنډيز**

د اسلام له نظره پر حکومتي چارو د سياسي تړونونو اغېزي هغه څه دي ، چې د حکومتونو ترمنځ اړيکي سمبالوي، د ټولنې مصحلتونه پکې په نظر کې نيول کيږي، د جګړې مخنيوی کوي. دغه څېړنه يو کتابتوني څېړنه ده او د موضوع اهميت دا دی، چې کله کله وړې ډلې هم مشروع حکومتولی ته رسوي، په اسلامي تاريخ کې يې ښه بېلګه د عقبې لومړي، دويم او حديبې صلحې تړونونه يادولی شو، موخه د موضوع دا ده، چې حکومتونه يا د حق کوچنۍ ډلې څنګه کولی شي، چې خپل حکومت يا سياسي حرکت ته نړيوال يا کورنی مشروعيت ور په برخه کړي، پر دې سربېره سياسي تړونونه د ځاني او مالي قربانيو ترڅنګ دا هم کولی چې قدرتونه کورني او نړيوال مشروعيت ته ورسوي او د ټولنې د وګړو د مصلحت ساتلو په وخت کې د جګړې مخنيوی وکړي. په پايله کې ويلی شم، چې معاهدات د حکومتونو ترمنځ د پايښت او اړيکو جوړولو مهم لامل بلل کيږي.

**کليدي کلمې:** تړون، ثبات، حکومت، مشروعيت، معاهده.

استناد: وردګ. محمدالله. (۱۴۰۵)، د اسلامي شريعت له نظره پر حکومتي چارو د سياسي تړونونو اغېز، مجله علمی تحقیقی علوم طبیعی و اجتماعی پوهنتون بغلان، شماره۱، بهار (۱۴۰۵)، شماره مسلسل ۳۸، دور۱۴. (۵۵-۶۸).
ناشر: پوهنتون بغلان. Journal@baghlan.edu.af

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحيم؛ الحمدلله ربّ العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين محمد ﷺ و على آله و أصحابه أجمعين. اما بعد!

**(إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ) (الأنفال: ۷۲)**

اما بعد! د ا يو ښکاره حقيقت دی، چې د اسلام دين ټولې نړۍ ته داسې يو ستر پيغام راوړی دی، چې په عملي کولو سره يې انسانان څه چې مرغان او حيوانات هم په امن کې ژوند کولای شي، هغه داسې يو قانون چې تر قيامته به دوام لري، هوساينه، خوښي او بډاينه له ځانه سره لري هغو کسانو چې دې قانون ته يې لبيک ويلي نومونه يې په زرينو کرښو د اسلام په تاريخ کې ثبت څه؛ بلکې هر څوک کوښښ کوي چې د خپلې کورنۍ غړي يې د هغوی په نومونو باندې ونومول شي، هغوی د ښې حکومتولي هغه مهمې بېلگې دي، چې روم او فارس يې د دې حکومتولی له امله په گونډو کړل، هغوی يوازې د زور او قوت له مخې نه بلکې د ښو اخلاقو او قوي سياست له مخې هم کولی شول چې دښمن مات او يا يې دې ته اړ باسي څو د سياسي تړون(معاهدې) له مخې خپل ځانونو ته د يو څو ورځو لپاره د امن کور پيداکړي.

واقعا ښه حکومتولی هغه وخت ښه حکومتولي جوړېدلای شي چې مقابل لوری د نېکو اړيکو تر سره کېدو غوښتنه وکړي او تل د ځان د بسيا او پاتې کېدو لپاره ثبات ولري، چې ښه بېلگه د رسول الله صلی الله عليه وسلم مدني دور، خلفاء راشدينو او د اسلام مبارک دين نور سترو وياړولو شخصيتونو نومونه يادولی شو، چې تل يې دښمن دېته اړ ويستلي، څو د سياسي تړون يا معاهدې له مخې د گاونډېتوب ژوند وکړي، دې سياسي تړونونو په حکومتولی کې هغه مقام خپل کړ چې د نړيوالو قوانيو يوه مهمه مرجع او ماخذ وگرځېد.

دا چې هره ټولنه د گڼو خلکو او قومونو څخه جوړه شوې وي او په خپل منځ کې د ټولنيز ژوند لپاره داسې قوانينو ته اړتيا لري، چې خپلې ورځنۍ چارې پرې داسې سمبال کړي، څو د ظلم او تري څخه مخه ونيول شي او د عدالت په ستنو ولاړ نظام را منځته کړي، د دې چارې د سرته رسولو په موخه کوښښ شوی چې مليونونه خلک خپل ځان قرباني کړي؛ خو چې کله په خپله جغرافيه کې يې دا لوی آرمان پوره شي بېروني دښمنان يې کله کله غواړي چې په سياسي او اقتصادي ډگر کې د

پرمختګ مخه ونیسي، چې په ترڅ کې یا سیاسي او اقتصادي تعامل ته اړ باسي او یا هم نظامي زور په موخه نظامونه له منځه یوسي؛ نو دا چې د بریالی حکومتولۍ لپاره سیاسي او اقتصادي تړونونه یا تعامل څومره مهم دي او څومره ستونزه حلولای شي دلته پرې بحث شوی دی.

د یادولو وړ ده چې هر ه لیکنه خپلې محتوا ته په کتلو سره په خپل ذات کې ځانګړی ارزښت لري، همغه اهمیت یې اړتیا هم ښه روښانه کولی شي؛ نو د اسلام له نظره په حکومتي چارو د سیاسي تړونونو اغیز اهمیت په لاندې ټکو کې رانغښتی شو:

۱- دا موضوع حکومتونه هڅوي، څو خپل ځانونه د سیاسي بحرانونو څخه وژغوري په سیاسي او اقتصادی ډګر کې د ځان لپاره روښانه تګلاره جوړه کړي.

۲- سیاسي واکمنو ته دا ښیي، چې مصلحتونو ته په پام سره تل د جګړو لاره غوره نه کړي.

۳- خلک به د سیاسي تړونونو (معاهدو) په مفهوم او ګټو پوه شي.

۴- د سیاسي تړونونو (معاهدو) اغېز به د اسلامی لارښود په رڼا کې روښآنه شي.

هره څېړنه معمولاً د داسې پوښتنو په ځواب کې تر سره کیږي، چې د پوښتنو اصلي محور ته ځواب و وایي چې یاده څېړنه به هم لاندې پوښتنو ته ځواب و ویلای شي:

۱- پر حکومتي چارو د اسلام له نظره د سیاسي تړونونو اغېزې څه دی؟

۲- سیاسي تړونونه څه ته وایي؟

۳- د اسلام په تاریخ کې د سیاسي تړونونو بېلګې کومې دي؟

واقعا چې پر حکومتي چارو د سیاسي تړونونو اغېز تر سرلیک لاندې په عربي ژبه ځینې مقالې او لیکنې شته او هر چا پرې څېړنې کړې دي؛ خو دا چې په ښه حکومتولی باندې یې اغېز ې څه دی څېړنې کمې تر سره شوې په ځانګړي ډول په پښتو ژبه کې په یاده موضوع تر دې دمه کومه ځانګړې لیکنه نه ده شوې.

## د څېړنې تګلاره

د دې څېړنې منهج او تګلاره استقرایي، تحلیلي او توصیفي ده او له موثقو اخذلیکونو څخه دکار اخیستنې په صورت یې د تګلارې ډول کتابتوني دی.

**الف- د حکومت پېژندنه**

حکومت چې یوه عربی کلمه ده او د حکم څخه اخیستل شوې ګڼې معناګانې لري، د بېلګې په ډول قضاء، فیصله واک او اختیار او په عرف کې هر هغه نظام چې د یوې ټاکلې جغرافیې د نظم چارې په

غاړه ولري حکومت يا دولت بلل کيږي. [1] په شرعي اصطلاح کې د حکومت بديل نومونه شته لکه:الخلافة، الامامة او الامارة چې د لغت له مخې کېداى شي يو له بل سره توپير ولري؛ لکن د اصطلاحي تعريفاتو له مخې يې توپيرونه کم دي، چې د بېلګې په ډول يې داسې بيانولى شو:

**الخلافة**

لغتا خلافت د (خلف) مصدر دى او د ځاى ناستي معنا لري يعنې د يو چا پر ځاى باندې بل څوک ټاکلو ته خلافت وايي په قران کريم کې د دې کلمې يادونه داسې شوې ده( **وَقَالَ مُوسَى لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي) (الأعراف: ١٤٢)**

ژباړه: وويل موسى ورور خپل هارون ته ( طور ته د خپل تګ په وخت کې دتورات او مناجات لپاره ) چې خليفه اوسه زما په دې قوم زما کې.

اصطلاحا: خلافت هغه عامه رياست ته ويل کيږي، چې د شريعت په چوکات کې د امت پر ټولو وګړو باندې واک ولري او ورځنى چارې يې پرمخ يوسي.[2]

**الامامة**

امام الماوردى رحمه الله په خپل اثر الاحکام السطانيه کې امامة داسې تعريف کړي دي( مَوْضُوعَةٌ لِخِلَافَةِ النُّبُوَّةِ فِي حِرَاسَةِ الدِّينِ وَسِيَاسَةِ الدُّنْيَا).[3]

يعنى امامة د نبوت هغه استازيتوب دى چې د دين او دنيوى سياست چارې پر غاړه لري.

**الامارة**

الامارة لغتا د علامې معنا لري(٤) د خلافت او امامة تعريفونو ته ورته امارة هم هغه اسلامي سياسي نظام دي، چې د يو امير تر چتر لاندې د شريعت په بنسټ د ديني شعايرو د ساتنې او د خلکو د دنيوي

---

[1] البستانى، فواد افرام،(١٣٧٧). منجدالطلاب، مترجم: محمدبندر ريگي، انتشارات اسلامى، تهران، ١٠٧ مخ.

[2] القلموني، محمد رشيد بن علي رضا بن محمد شمس الدين بن محمد بهاء الدين بن منلا علي خليفة ، (ب، ت) الخلافة، لومړى ټوک، الزهرا للاعلام العربى، مصر= قاهرة. ١٧ مخ . او گوهررحمن،(١۴٣٠هـ ق) اسلامى سياست، ژباړن: قريب الرحمن سعيد ، لومړى چاپ ، پيغام خپرندوى مرکز پشاور، ١٠٠- ١٠٣ مخونه.

[3] الماوردى، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي،(ب، ت). الأحكام السلطانية. لومړى ټوک، دار الحديث –القاهرة.١۵ مخ.

[4] الجرجاني ,علي بن محمد بن علي الزين الشريف ,( ١٤٠٣هـ -١٩٨٣م )التعريفات للجرجاني. لومړى چاپ، دار الكتب العلمية بيروت -لبنان، ۵٢مخ.

چارو د تنظیم مسولیت لري. البته یوازې توپیر یې کیدای شي دا وي چې د امارت اصطلاح تر یوې کوچنۍ جغرافيې پورې هم د استعمال وړ ده.

**ب- سیاست**

سیاست دکلمې اطلاقات پر ډېرو معناوو سره راغلې ده؛ خو ابن منظور الافریقی ویلي، چې سیاست دساس یسوس له کلمې څخه اخستل شوې، چې په مانا د منظمه توګه دحکومت او ریاست پر مخ وړلو ته وایي.[1]

سیاست په عام مفهوم سره ( د اصلاحي تدبیرونو خپلولو او د حکومت د نظم او نسق پرمخ وړولو ته سیاست ویل کیږی).[2]

همدارنګه دکتور محمود الصاوی ویلي (چې سیاست د اسلامي دولت د هغه امورو چې په هغه کې صریح نص نه وي او له شانه سره یې تغیر او تبدیل مناسب وي د امت د مصلحت په نظر کې نیولو ترڅنګ ددې امورو ترتیب او تدبیر په داسې ډول سره وشي چې د شرعي احکامو او عامه اصولو سره موافقت ولري).[3]

**ج: تړون یا معاهده**

معاهده چې په پښتو ژبه کې ورته تړون ویل کیږي، لغتا د عاهد یعاهد مصدر ده او د عهد د هاء په زېر یعهد د هاء زبر عهدا څخه مشتق شوې، د یوه شي په ساتلو باندې هوکړې ته معاهده ویل کیږي.[4]

زحیلی بیا ویلي: ((د تړون په عربی ژبه کې الموادعة، المسالمة، المصالحة، المعاهدة او المهادنة بدیلې کلمې کارول کیږي([5] ) د دوو یا یوې ډلې ترمنځ کلکې وعدې ته ویل کیږي، چې د ولتونو په کچه هغې قوي هوکړې ته ویل کیږي چې د ورځینو چارو د تنظیم په موخه یې بسته کوي.[6]

---

[1] ابن منظور, محمد بن مکرم بن علی، أبو الفضل، جمال الدین الأنصاري الرویفعی الإفریقی.(۱۴۱۴هـ). لسان العرب. شپږم ټوک، دریم چاپ، دار صادر: بیروت، ۱۰۸ مخ.

[2] اسلامی سیاست. ژباړن: قریب الرحمن سعید. ۱۴ مخ.

[3] الصاوي، محمود.( ۱۴۱۸ – ۱۹۹۸) نظام الدولة في الإسلام. لومړی چاپ. دار الهدایة. مصر، ۳۹ مخ.

[4] ابن فارس، أحمد بن فارس بن زکریاء القزویني الرازي،(۱۳۹۹هـ - ۱۹۷۹م.). معجم مقاییس اللغة، څلورم ټوک،دار الفکر، ١٦٧ مخ.

[5] الزحیلی، وهبة،(ب، ت). الفقه الاسلامی و ادلته، لومړی چاپ، آتم ټوګ، دارالفکر، سوریة: دمشق.۲۷ مخ.

[6] إبراهیم مصطفی ـ أحمد الزیات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار.(ب، ت). المعجم الوسیط، لومړی چاپ ، دویم ټوک، دار الدعوة، ٦٣٤ مخ.

په تړوله کې معاهده هغه موثق تړونونو ته ويل کيږي، چې دولتونه يې په رسمي ډول په خپلو منځنو کې د سياسی او اقتصادي موخو د پلي کولو لپاره د يو لړ مسوليتونه ترڅنګ بسته کوي.[1]

**د معاهداتو موخې**

معاهدات يا تړونونه ګڼې موخې لري، چې د مسلمانانو د مصلحتونو له مخې د دوو دولتونو تر مابين را منځته کيږي او مهمې موخې يې په لاندې ډول بيانولی شو:

۱- اسلام ته بلنه.

۲- جنګ ته د پای ټکی ايښودل.

۳- د اسلامي نظام تقويه او د خپلو حدودو ساتنه.

۴- د اسلامي نظام لپاره د مصلحتونو تحقق.

**د معاهداتو د مشروعيت دلايل**

**الف: قراني ايت**

**(بَرَاءَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ)(التوبة: ۱)**

ژباړه: دا بېزاري( يا صاف ځواب) د له (طرفه) او د الله د رسول له (طرفه) هغو کسانو ته چې عهد ورسره کړی دی تاسې له مشرکانو....

**ب: احاديث**

د رسول الله صلى الله عليه وسلم قول: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ... وَمَنْ نَكَثَ الْعَهْدَ، وَمَاتَ نَاكِثًا لِلْعَهْدِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لاَ حُجَّةَ لَهُ» الحدث [2]

ژباړه: او څوک چې عهد مات کړي او په داسې حال کې مړ شي چې عهد يې مات کړي وي د قيامت په ورځ به بې عذره را شي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل: د حديبې صلحه کوم چې رسول الله د مکې له مشرکينو سره لاسليک کړه.

[1] رشيد، محمد رشيد بن علي رضا بن محمد شمس الدين بن محمد بهاء الدين،(۱۹۹۰ م). تفسير القرآن الحكيم (تفسير المنار)، لسم ټوک، الهيئة المصرية العامة للكتاب، ۱۶۷ مخ.

[2] احمد بن حنيل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني،( ۱۴۲۱ هـ - ۲۰۰۱ م). مسند الإمام أحمد بن حنبل، څلورويشتم ټوک، لومړی چاپ، مؤسسة الرسالة، ۴۵۲ مخ.

**ج: د صحابه وو کړنې**

په دې برخه کې تر سره شوې معاهدې شته چې د سیرت کتابونو یې په پوره ډول بیان کړی دی بېلگه یې د عمر رضی الله په وخت کې په مستقیم ډول د ایلیا(بیت المقدس) له مشرانو سره د سولې د معاهدې نومونه یادولی شو.[۱]

**په اسلامي شریعت کې د معاهداتو(تړونونو) د تر سره کولو شرطونه**

دا چې معاهده په اسلامي شریعت کې یو ځانگړی ارزښت لري او زیات شمېر پایلې پرې مرتبې کېدای شي؛ نو له همدې امله د داسې موضوع د څېړنې لپاره ځینې شرطونه هم اړین دي، چې ځینې یې تر عاقد، ځینې یې تر معاهدې او ځینې نور یې بیا تر اسبابو پورې اړه لري او هغه دا دي:

**الف-** د عاقد لپاره تر ټولو مهم شرط بلوغ ، عقل، پوره رضا، اختیار او حریت دی، خو دا چې د صلحې د تړون لاسلیک واک څوک لري په دې اړه ګڼو فقهاوو خبرې کړې، ځینو ویلي چې د دوو دولتونو تر منځ د معاهدې د لاسلیک واک یوازې تر خلیفه او یا یې تر نائبه پورې اړه لري، بل څوک یې د امضاء واک نه لري.[۲]

خو د احنافو له نظره بیا د مصلحت د شتون په صورت کې د مسلمانانو یوه ډله هم کولی شي، چې د امام یا امیر له اجازې پرته د معاهدې تړون لاسلیک کړي. دلیل یې د امام الکاسانی قول ذکر کولی شو:( وَلاَ يُشْتَرَطُ إذْنُ الْإِمَامِ بِالْمُوَادَعَةِ، حَتَّى لَوْ وَادَعَهُمْ الْإِمَامُ، أَوْ فَرِيقٌ مِنْ الْمُسْلِمِينَ مِنْ غَيْرِ إذْنِ الْإِمَامِ جَازَتْ مُوَادَعَتُهُمْ؛ لِأَنَّ الْمُعَوَّلَ عَلَيْهِ كَوْنُ عَقْدِ الْمُوَادَعَةِ مَصْلَحَةً لِلْمُسْلِمِينَ) [۳]

ژباړه: د اوربند لپاره د امام اجازه اړینه نه ده که امام یا د مسلمانانو یوه ډله د امام له اجازې پرته اوربند وکړي روا دی، ځکه په تړون یا معاهده کې مهمه خبره د مسلمانانو مصلحت دی.

**ب-** د معاهدې د تړون شرط دا دی چې د معاهدې متن به روښانه، موخې به یې ښکاره، حقوق او التزامات به یې څرگند وي د تأویلاتو، توریيو، چل، فرېب او نیرنگ څخه به خالي وي.[٤]

**ج-** د مسلمانانو مصلحت به تحقق پرې مومي او ضرر به پرې منع کیږي.

---

[۱] طقوش، محمد سهیل،( ۱۴۲۴هـ-۲۰۰۳م). تاریخ الخلفاء الراشدين الفتوحات والإنجازات السیاسیة، لومړی ټوک، دار النفائس، ۲۷۳ مخ.

[۲] مفتاح یاقه، فتحی غیث،(۲۰۲۳ م) مجلة الحق، کلیة القانون- جامعة بنی ولید- لیبا، دوولسمه گڼه، ۱٦۰ مخ.

[۳] الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي،( ۱٤۰٦هـ - ۱۹۸٦م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، دویم چاپ، اووم ټوک، دار الكتب العلمية، ۱۰۸ مخ.

[٤] الزحیلی، وهبة، (ب، ت) احکام المعاهدات فی الشریعة الاسلامیة، ۲٦ مخ.

**د-** معاهده به د فاسدو شرطونو څخه خالي وي، یعنې داسې شرطونه به پکې نه وي ځای پر ځای شوي چې دشریعت له روح او روان سره په ټکر کې وي.

**د معاهداتو ډولونه**

معاهدات په ټوله کې په درې ډوله دي:

**په ایمان، اسلام او جهاد سره معاهده(بیعت):** دا ډول عهد یا په ایمان، توحید، نصرت او جهاد باندې د الله تعالی او له نبی صلی الله علیه وسلم تړل کیږي، چې د لومړی خبرې تایید یې دا آیت**(وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ)**(الأعراف: ۱۷۲) کوي.

ژباړه: او (یاد کړه اې محمده!) هغه وخت چې واخیست رب ستا له بني ادمو ځینې له شاګانو د دوی څخه اولاده د دوی او شاهدان یې کړل دوی پر ځانونو خپلو باندې( او وفرمایل الله دوی ته ) ایا نه یم زه رب ستاسې ! وویل دوی( اقرار یې وکړ) هو! ته( زموږ رب یې په ربوبیت د الله )ګواه کړه موږ خپل نفسونه ( د دې جهته) چې و (نه) وایی تاسې په ورځ د قیامت کې چې بېشکه موږ وو له دغه (توحید) غافلان (ناخبران).

او د دویمې خبري په اړه الله متعال فرمایي**(وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي الاية)**(آل عمران: ۸۱)

ژباړه: او (یاد کړه اې محمده!) هغه وخت چې واخیست الله عهد محکم له ټولو انبیاوو چې خامخا هغه شی چې درکړم زه تاسې ته چې هغه کتاب او حکمت( شرعي احکام او عمیق اسرار)دي بیا راشي تا سې ته رسول الله (محمد) چې مصدق (رېښتیا کوونکی) دی ( هغه کتاب چې له تاسې سره دی نو هرومرو به ایمان راوړی تاسې خامخا به هغه او خامخا مدد(کمک) به کوی تاسې خامخا ورسره وویل (الله دوی ته) ایا اقرار وکړ تاسې په دغه د (ایمان او نصرت) او واخسته (قبوله کړه)تاسې پر دې ایمان ټینګه وعده زما؟

همدا زار له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره د عقبې لومړی دویم او درېیم بیعت او بعیت الرضوان بېلګې یادولی شو.

**۲- سیاسي معاهدات**: دا هغه ډول معاهدات دي چې د ګڼو موخو لپاره کارول کیږي په ښکاره ډول یې د اسلامي شریعت په رڼاکې معمولاً هغه معاهده چې د غیر مسلمینو سره د اسلام د نشر یا بلنې، د

جنګ خاتمې... لپاره تړل شوې وي سياسي معاهده بلل کيږي. د اسلام په تاريخ کې د دې ډول معاهدې بېلګې زياتې دي، چې دلته يې راوړل موږ له موضوع ليرې کوي.

**۳- تجارتي معاهدات:** تجارتي معاهدات چې دواړو لوريو ترمنځ د بشري حقوقو له مخې د ورځني ژوند د اړتياوو پر بنسټ تړل کيږي په اسلامي نظام کې د مشرکينو سره هم تړون جواز لري او احترام يا دوام يې د مصلحت په وخت کې مهم ښودل شوی دی؛ ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم د قصی بن کلاب له مړينې وروسته چې کوم تړون د حاجيانو لپاره د ډوډۍ، اوبو... تيارولو دندې سپارل شوې وې ممانعت ونه کړ، تر دې چې ويې ويل:( «كُلُّ حِلْفٍ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، لَمْ يَزِدْهُ الْإِسْلَامُ إِلا شِدَّةً).[۱] ژباړه: هغه تړونونه چې په جاهليت کې په قسم باندې محکم شوی وو، د اسلام دين هغه ته پياوړتيا ورکړه.

## د- پر حکومتي چارو د تړونونو اغېز

ګټور تړونونه پر حکومتي چارو باندې ډېرى مثبتې اغيزې لري چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

۱- **سياسي ثبات**: واقعا تړونونه په ټوله کې ځانګړی ارزښت لري، د اسلام په تاريخ کې د داسې تړونونو بېلګې شته، چې د سياسي پلوه يې حکومتونه رامنځ ته کړي، سياسي ثبات يې ورکړي او په اقتصادي ډګر کې يې هم هغه بنديزونه مات کړي وي، چې ورځ تر بلې يو لوری ور سره مخ او ګريوان وي، په دې برخه کې د عقبې لومړی تړون د نوملړ په سر کې ځای لري، چې د بعث په ۱۱ کال د يثرب ځينو ځوانانو د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په پټه په مکه مکرمه کې لومړنی ملاقات وکړ او د راتلونکي کال لپاره يې د ليدلو زمينه برابره کړه، تر دې چې په ۶۲۲م کال([۲]) د يثرب چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د هجرت څخه مخکې د مدينې منورې نوم و، سلګونه کسان د حج په مراسمو کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره اسلامي اصولو ته په پابندۍ او (عَلَى أَنْ تَمْنَعُونِي مِمَّا تَمْنَعُونَ مِنْهُ نِسَاءَكُمْ وَأَبْنَاءَكُمْ)( [۳]) ژباړه: يعنې له موږ څخه به داسې ملاتړ کوی؛ لکه څرنګه چې له خپلو ښځو او اولادونو يې کوی. همغه وو چې د اوس او خزرج صحابه وو ورسره پوره وعده وکړه او په ترڅ کې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته هجرت وکړ او د اسلامي حکومت

---

[۱] مسند احمد،پنځم ټوک، ۸۰ مخ.

[۲] مبارکپوری،صفی الرحمن،(ب، ت). الرحيق المختوم، لومړی چاپ ، دارالهلال- بيروت، ۱۳۳مخ.

[۳] ابن هشام, عبد الملك بن هشام بن أيوب الحميري المعافري،( ۱۳۷۵هـ - ۱۹۵۵ م). السيرة النبوية لابن هشام، دويم چاپ ، لومړی ټوک، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر،۴۴۲ مخ.

بنسټ يې كېښود او يو سياسي ثبات يې رامنځته كړ، په دې توګه ويلى شو چې ګوندونه كله كله د حكومتونو د را منځته كېدو لامل ګرځي، نه يوازې دا بېلګې د حكومتونو ترمنځ يې د سياست د بنسټ اېښودلو او سياسي ثبات لپاره يوه لويه او مهمه مركزي نقطه بللى شو.

**۲- نړيوال مشروعيت:** كمزوري قدرتونه، هيوادونه او ډلې د خپلې مشروع مبارزې په دوام كې زبرځواك قدرتونه كله كله دې ته اړ باسي، چې د سياسي ګوندونو په وسيله د ځان لپاره د غښې په شان لاره پرانيزي، دا هغه حقيقت دى چې سترګې نه پرې پټيږي په ځانګړي ډول سره د افغانستان اوسنى تاريخ هم يادولى شو، د اتړون نه يوازې چې د هيواد د آزادۍ يا د كوچنۍ ډلې د پياوړتيا سبب ګرځي؛ بلكې نړيوال مشروعيت تر لاسه كوي، د اسلام په تاريخ كې يې بېلګې ډېرې دي؛ خو ښه بېلګه يې د حديبيې صلح([1]) ده: كوم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د نولس(۱۹) كلونو وروسته دې ارمان ته ورسېد، چې په مدينه كې داسې اسلامي حكومت جوړ كړي چې فارس او روم ته يې هم په ډاګه كړي او د مبارزې بلنه وركړي.

**۳- د كورني امنيت ټينګښت**

د حكومتونو لپاره تر ټولو مهمه داده، چې په كور د ننه امنيت يې ټينګ وي، او د خپلو وګړو مال، ناموس، عقل او اسلامي شعاير چې ساتنه يې په هر چا فرض ده په ډاده زړه ساتل شوي وي او د خوشحالۍ په فضاء كې خپلې ورځنۍ چارې برابرې كړي او پر مخ يوسي؛ خو له بده مرغه كله كله د بيرونيو د لاس وهنې له امله د ځينو هېوادونو كورني امنيت هم ګډوډ شي، تر دې چې مخنيوى يې هم ګران وي، نو هغه سياسي او امنيتي ګړونونه چې اسلامي شعاير پكې خوندي پاتې شوي وي كولى شي د كورني او نړيوال امنيت د راوستلو لامل وګرځي. په اسلامي تاريخ كې د رسول الله صلى الله عليه

[1] د هجرت په شپږم كال د ذى القعدي په مياشت كې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه منوره كې خوب ولېد، چې دى او اصحاب رضى الله عنهم يې مسجد حرام ته داخل شوي د كعبې شريفې كلياني يې اخستې او ټول طواف او عمره اداء كړي.... د همدې خوب له ليدلو سره سم رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو ملګرو ته دعمرې د اداء كولو اعلان وكړ، تردې چې ۱۴۰۰څخه تر ۱۵۰۰ ملګرو د ذى القعدې په لومړۍ نېټه د دوشنبې په ورځ يې له مدينې منورې څخه د ام سلمة رضى الله عنها په ګډون حركت وكړ؛ خوكله چې د مكې مشركين له دې پېښې نه خبر شول، د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو د ورتګ او د بيت الله شريفې د زيارت كولو ممانعت يې وكړ.له دې نه وروسته د قريشو سفيرانو له راتګ سره سم رسول الله صلى الله عليه وسلم هم خپل سفير عثمان ابن عفان رضى الله عنه مكې مكرمې ته واستاوه ؛ خو د هغه دځنډ له امله د شهادت خبر هم راغى لكن له بيعت الرضوان وروسته ناسم ثابت شو.په اخر كې دواړه لوري داسې يوې پرېكړې ته ورسېدل چې په ظاهر كې دمسلمانانو په ضرر سره ښكاريده ولكن په پټه سره دا دالله تعالى وحې وه چې ډېرې موخې پكښې رانغښتې وې. الرحيق المختوم، ۳۰۸مخ.

وسلم ، خلفاء راشدینو او وروسته ځینو حکومتونو بېلګې شته چې د سیاسي تړونونو په وسیله توانېدلي دي نړیوال امنیت ټینګ کړي او د هغه بېلګې دا دي:

**د مدینې منورې له یهودیانو سره تړون**

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله مدینې منورې ته هجرت وکړ د اوس او خزرج د قومونو تر څنګ نورو سخت زړو د اسلام دښمنانو(یهودو) هم ژوند کاوه، یهود یادوم، چې په خپلو منځونو کې په دریو لویو قبیلو باندې ویشل شوي وو، بنو نظیر، بنو قریظه او بنو قینقاع چې د اوس او خزرج حلیفان هم وو؛ خو بیا هم د خپلو حلیفانو په مقابل کې د رسول الله په ضد ودرېدل او په ښکاره او پټه یې خپلې دښمنی ته دوام ورکړ، الله متعال یې په اړه داسې وایي:( **لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا** )(المائدة: ۸۲) تردې چې د قریشو په څېر یې هر ځلې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو هوډ وکړ، خو بریالي نه شول او په دې توګه یې خپله دښمني دوامداره وساتله او تل یې کوښښ کولو چې د مسلمانانو په منځ کې خپل نفوذي خلك پیدا کړي، چې ښه بېلګه یې عبدالله بن ابی بن سلول یادولی شو او کله کله به یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بېرونیو دښمنانو سره اړیکې نیولې د جنګ او یولاس کېدو غوښتنې یې کولې؛ نو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د عقد مواخات څخه وروسته د یهودو سره په معاهده باندې تصمیم ونیو او په ګڼو مادو کې یې معاهده ورسره لاسلیک کړه ، څو د کورني امنیت د ساتلو لپاره اثر ولري.

**۴- د نړیوال امنیت ټینګښت**

د تړونونو په وسیله ډېرې داسې پایلې لاسته راځي، چې د نړیوال امنیت په ټینګښت کې کومك کوي چې بېلګې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژواندانه کې هم لېدلای شو، لکه:

**له رومیانو سر د رسول الله صلی الله علیه وسلم تړون**

د موته له غزوې وروسته د هجرت په نهم کال یو ځل بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبر راغی، هغو کسانو چې د رسول الله سفیر عمیر بن حارث الازدی یې شهید کړی و، بیا د اسلامي حکومت په وړاندې خپل صفونه جوړ کړي دي او د جنګ هوډ لري رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل ټول ملګري دا ځل په ښکاره توګه خبر کړل چې درومیانو د مقابلې لپاره ځانونه تیار کړي، پیسې، خوارکي توکي او سپرلۍ ورته را ټول کړي، چې په دې توګه په زرګونو ملګري تیار شول او تر سختو کړاونو ګاللو یې تبوك ته ځانونه ورسول، مقابل لوري رومیانو چې یحنة بن روبه یې مشري کوله معاهدې او سولې ته غاړه کېښوده او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د جزیې په ورکولو دوی ټولو ته امان

ورکړ. او لوی دښمن چې په هغه وخت کې يې نړيوال مشروعيت او ځواک درلود الله متعال ورته ذليله کړ او په سياسي تړون سره يې ځان ترې بې غمه کړ.[1]

**مناقشه**

د اسلام په تاريخ کې ثابته شوې چې معاهدې په ټوله کې کوم ځانګړی لوری نه لري په جنګي حالاتو کې د دښمن د غوښتنې سره سم چې اسلامي حکومت ته پکې کمزوتيا را منځته نه شي او اسلامي شعائر تر پښو لاندې نشي د اوربند او جنګ درېدو په موخه يا د اقتصادي ستونزو د راپېښېدو په صورت کې دواړه لوري د اقتصادي پرمختيا لپاره معاهدې يا تړونونه امضاء کړي.

ځينې خلک دا کړنې د نړی والو حقوقو لاسته راوړنه بولي، خو د اسلام مقدس دين ۱۴۰۰ کاله وړاندې ګڼې بېلګې لري تر دې چې د اسلام د دين څخه وړاندې په نورو اسماني دينونو کې يې هم بېلګې وې؛ نو معلومه ده چې دا د بشري وضعي قوانينو لاسته راوړنه نه؛ بلکې د اسلامي سياست کې يو مهم رکن دی.

د ځينو معاهداتو محتوی کله کله ځينو ګډونوالو ته د خوښې وړ نه وي او فکر کوي چې د دوی په حقوقو باندې به سترګې پټې شي خو داسې نه ده، ځکه د معاهدې با احساسه اسلامي اصولو ته پابند استازي تل ټول لوري په غور سره څېړي، چې خپل ملت پرې خوښ او مثبتې پايلې رامنځته کړي او د ملت په سرونو او حقوقو معامله و نه کړي.

د يادولو وړ ده هر تړون چې د ملت د وګړو په حقوقو باندې سترګې پټې کړي هغه يو عادلانه تړون نه؛ بلکې يو ظالمانه تړون بللی شو.

**پايله**

په پايله کې ويلي شم چې تړونونه يا معاهدات د حکموتونو د اړيکو د پايښت لپاره يو مهم لامل بلل کيږي، د خپل منځي ستونزو د حل تر څنګ کولی شي نړيوالې ستونزې هم حل کړي. د بري(وچې) او بحري ستونزو او وېش تر څنګ فضايي حريمونه هم رامنځ ته کړي. کمزوريو ډلو ته کله کله نړی وال مشروعيت ورکوي، د خلکو او ملت د امن او سکون لامل ګڼل کيږي، تر دې چې دولتونه له اقتصادي اړخه هم په پښو دروي او...

---

[1] الرحيق المختوم، ۳۹۸- ۴۰۰ مخونه.

**اخځلیکونه**

قران کریم

إبراهيم مصطفى ـ أحمد الزيات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار .(ب، ت). المعجم الوسيط، لومړی چاپ ، دويم ټوک، دار الدعوة.

ابن فارس، أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي،(۱۳۹۹هـ - ۱۹۷۹م.). معجم مقاييس اللغة، څلورم ټوک،دار الفكر.

ابن منظور, محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين الأنصاري الرويفعى الإفريقى.(۱۴۱۴هـ). لسان العرب. شپږم ټوک، دريم چاپ، دار صادر: بيروت.

ابن هشام, عبد الملك بن هشام بن أيوب الحميري المعافري،( ۱۳۷۵هـ - ۱۹۵۵ م). السيرة النبوية لابن هشام، دويم چاپ ، لومړی ټوک، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر.

احمد بن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني،( ۱۴۲۱ هـ - ۲۰۰۱ م). مسند الإمام أحمد بن حنبل، څلورویشتم ټوک، لومړی چاپ، مؤسسة الرسالة.

البستانی، فواد افرام،(۱۳۷۷). منجدالطلاب، مترجم: محمدبندر ريگي، انتشارات اسلامی، تهران.

الجرجاني ,علي بن محمد بن علي الزين الشريف ,( ١٤٠٣هـ -١٩٨٣م )التعريفات للجرجاني. لومړی چاپ، دار الكتب العلمية بيروت -لبنان.

رشيد، محمد رشيد بن علي رضا بن محمد شمس الدين بن محمد بهاء الدين،(۱۹۹۰ م). تفسير القرآن الحكيم (تفسير المنار)، لسم ټوک، الهيئة المصرية العامة للكتاب.

الزحيلی، وهبة، (ب، ت) احکام المعاهدات فی الشريعة الاسلامية.

الزحيلی، وهبة،( ب، ت). الفقه الاسلامی و ادلته، لومړی چاپ، آتم ټوګ، دارالفکر، سورية: دمشق.

الصاوي، محمود.( ۱۴۱۸ – ۱۹۹۸) نظام الدولة في الإسلام. لومړی چاپ. دار الهداية. مصر.

طقوش، محمد سهيل،( ۱۴۲۴هـ-۲۰۰۳م). تاريخ الخلفاء الراشدين الفتوحات والإنجازات السياسية، لومړی ټوک، دار النفائس.

القلموني، محمد رشيد بن علي رضا بن محمد شمس الدين بن محمد بهاء الدين بن منلا علي خليفة ، (ب، ت) الخلافة، لومړی ټوک، الزهرا للاعلام العربی، مصر= قاهرة.

گوهررحمن،(۱۴۳۰هـ ق) اسلامی سياست، ژباړن: قريب الرحمن سعيد ، لومړی چاپ ، پيغام خپرندوی مرکز پشاور.

الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي،( ۱۴۰۶هـ - ۱۹۸۶م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، دويم چاپ، اووم ټوک، دار الكتب العلمية.

الماوردی، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي،(ب، ت). الأحكام السلطانية. لومړی ټوک، دار الحديث –القاهرة.

مبارکپوری،صفی الرحمن،(ب، ت). الرحيق المختوم، لومړی چاپ ، دارالهلال- بيروت.

مفتاح ياقه، فتحی غيث،(۲۰۲۳ م) مجلة الحق، كلية القانون- جامعة بنی وليد- لبيا، دوولسمه گڼه.